مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شاه ولی ارین ۲۰۱۹/۰۶/۲۰

# اخ، چې زدکړې نه وای!

## (لنډه کیسه)

پرون یې پوښتنې ته تللی وم. زښت زیات ناروغ و. درې میاشتې مخکې مې چې لیدلی و ډېر بدل شوی و. شونډې یې په کراره خوځولې، سترګې یې داسې رپېدې لکه باد چې پاڼه ښوروي او یوه ـ یوه اوښکه ورنه څڅېده. تر روغبړ وروسته یې په کراره راته وویل:

خدای دی راوله، په زړه کې مې داسې ګرځېدل چې ګلدین درپسې درولیږم، راودی غواړم چې د خپل زړه درد درسره شریک کړم، خو هغه خوارکی هم دومره په کاروبارکې اخته دی چې هر څه هیروي.

کمین ګله، یاره. ته خو ښختور یې، خدایتعالی ټول زامن درکړي دي.

سره له دې چې ستا کریم ګل له شورویانو سره د جهاد په لارکې شهید شو، نورګل تر اوسه ترې تم دی، سید ګل طالبانو مور مرو په زور او جبر در څخه بوته او د امریکایانو پر خلاف یې جنګوي. هغه جهاد چې د روسانو پر ضد افغانانو تر سره کړ، په سلګونو خپل هیواد وال یې د کافر، کمونست ، معلم او مامور په نومونو ووژل، خو اوس د همغه جهاد مشران ماسکو ته ورځی او د کمونستانو د رهبر مړي ته د ګلو ګیډۍ ږدي.

ډیر کسان چې د هغه جهاد او د طالبانو د دغه جهاد په اصلی هدف او مانا یې سر نه خلاصیږی، نو ستا درېواړو زامنو ته خو د اسلام او دین د شهیدانو او غازیانو په سترګه ګوري.

مګر دا بیچاره، ناپوه او بیسواده ولس تباه شو، خو د جهاد مشران تر ستوني پورې ماړه شول، اولادونه یې په بهر کې مزې او چرچې کوي.

ثمر ګله یاره، د زړه حال هر چاته ویلی نه شم. زه خو سم تباه شوم، وشرمیدم، خدای تعالی هم راباندی رحم نه ده کړی. د دې پر ځای چې یې زامن راکړي وای، د لونوخاوند یې کړم او هغه هم د خدای له قهره په داسې وخت کې پیغلوټې شوې چې زموږ له سیمې او کلي نه انصاف، انسانیت وروړګلوي او د کلیوالي ژوند صمیمیت تیښته کړې او ځای یې، زور زیاتي، ظلم او ناروا نیولی دی.

یوه لور مې کوتره چې ۱۴ کلنه شوه، بزرګ مجاهد قوماندان راته مخ کې خط کش کړ او ویې ویل: «زه مجاهد یم د الله د رضا له پاره مې جهاد کړی روسان مې وژلي، غازی یم د دې کلي نه مې دفاع کړې او د دې کلي هر څه زما غنیمت دي، نو څکه کوتره نکاح کوم. که چیرې ته دا راسره ونه منې، نو ته مرتد او د جهاد ضد یې مرګ دې مباح دی».

ډیرې منډې مې ووهلې هیچا مې غږ وانورید، د شپې له خوا مې هر څه خپل پرېښول ما ویل چې یوازې به خپل ناموس او لونې خوندې کړم، خو د قومندان کسانو ونیولم دومره یې ووهلم چې اوس د ملا د هډوکو د درد له لاسه کړیږم.

ړدې ـ ړدې مې کتل، لور یې رانه بوتله او په زور یې ځانته نکاح کړه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

نازو خو چي له ښکلانه موړ ورته هوسی ویل او نوي شپاړس کلنه شوې وه، هغه بل جهادي قومندان میرک بی له پوښتنې د شپې د وسلو په زور رانه بوتله او ځانته یي واده کړه. هیچا د هغې خوارکۍ چیغې او ناري سوري وانوریدي.

زما ګناه یوازې دا وه چي زده کړې مې کړې وې او په اولادونو مې هم لیک لوست کړی و. کورنی، جامو او کړو وړو مي د هغو له کلیوالي ژوند سره توپیر درلود، ما باید ښاري ژوند کړی وای، خو په ښاري ژوند کي هم د همدوی لندغرو او غلو انډیوالنو ارام ژوند پر خلکو را تنګ کړی و، زه هم مجبور شوم چي کلي ته بیرته ولاړ شم.

ستونزه دا وه چي هر چا، حتا زما نږدې خپلوانو هم ماته د پردو په سترګه کتل، تولو رانه کرکه کوله، ما بله لار نه درلوده، یوازې مې د درې نورو لونو، سپرغی، وږمې او هیلې د راتلونکې له پاره سوچ وکړ چي که وشم کولای دوی خو د دې ځناورو له منګولو راخلاصې کړم.

وروره، ستا مشوری ته اړ یم او که اړتیا شوه نو یو څه مرسته به هم راسره وکړې.

وه کمین ګله اوس ته راته ووایه چي څه وکړم؟. خوښ خو په دې یم چي زما ستونزه دې لږه کړه او خپله دې خوا راپیښ شوې.

خیر دې نصیب شه شیردله وروره.

دا خو ستا کومه ګناه نه ده چي تا او ستا اولادونو زدکړې کړې دي، دا د دې خوارو، بیچارو او نادانه کلیوالو ستره تیروتنه ده، چي د یوه لیک د لوستلو له پاره به ولسوالی ته ورتلل، مګر نن یې د کور تر څنګ ته او ستا اولادونو دغه ستونزه ورته له منځه وړې ده. دغه جاهلان ستا او ستا د کورنی پر ارزښت نه پوهیږي.

ریښتیا وایې شیردله، زه هم درسره مرسته کوم د دی پاتې درې لونو ژوند دې له دې ځناورو وژغوره، تر څو چي د دی ظالمانو ظلم او بې رحمې روانه وي، هیڅوک به د هوساینې سا ونباسي.

شیردل خپل هست او بود ټول خرڅ کړل، یو څه مرسته کمین ګل هم ورسره وکړه، د معلوماتو له مخی ایران او بیا ترکیی ته ولاړ.

کمین ګل داسې وایي: «یو څه موده وروسته مې د یو تلویزوني چینل له پردې نه داسې بوګنونکی خبر واورید چي یوه افغانه کورنی: خاوند، میرمن او درې لونې چي غوښتل یې له ترکیې نه یونان ته لاړه شي، د یونان په اوبو کې یې بیړی ډوبه شوې چي له امله یې ډیر کسان او دغه کورنی ته مرګ ژوبله اوښتې او مړي یې کابل ته لیږل شوي دي.»

دغه خبر ځکه کټ مټ ماته په سترګو کې ودرید چي د شیردل د کورنی د ژوند انځور وو.

د شپې هیڅ خوب رانغي، سهار وختی مې د کابل په لور حرکت وکړ، هغه روغتون ته چي مړي په کې ساتل شوي وو، په ډیرې بی صبری سره ورغلم، چي ومې لیدل خبره ریښتیا وه.»

چي په جنازه مې یې سترګې ولګیدې، په زړه مې کې تېر شول چي انډیواله دا هر څه دې له زدکړو درپېښ شول،

**اخ چي زدکړی نه وای!**

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ